څوک چې د ناروغ پوښتنې ته ورغی او دا دعا يې پرې اووه ځلې وويله: أَسْأَلُ اللَّهَ الْعَظِيمَ رَبَّ الْعَرْشِ الْعَظِيمِ أَنْ يَشْفِيَكَ»، يعنې د لوی الله نه؛ چې د لوی رب څښتن دی سوال کوم چې تا روغ کړي، مګر دا چې الله به يې روغ کړي، -خو چې نېټه يې پوره شوي نه وي-

له ابن عباس رضي الله عنهما څخه روايت دی چې نبي صلى الله عليه وسلم فرمايلي: «څوک چې د ناروغ پوښتنې ته ورغی او دا دعا يې پرې اووه ځلې وويله: أَسْأَلُ اللَّهَ الْعَظِيمَ رَبَّ الْعَرْشِ الْعَظِيمِ أَنْ يَشْفِيَكَ»، يعنې د لوی الله نه؛ چې د لوی رب څښتن دی سوال کوم چې تا روغ کړي، مګر دا چې الله به يې روغ کړي، -خو چې نېټه يې پوره شوي نه وي-.

[صحيح دی] [ابو داود، الترمذي، او احمد روايت کړی دی]

نبي صلى الله عليه وسلم خبر ورکوي چې هېڅ مسلمان د بل ناروغ مسلمان پوښتنې ته نه ورځي چې اجل يې پوره شوی نه وي او دا دعا پرې نه وايي - چې (أسأل الله العظيم) د هغه الله نه سوال کوم چې په ذات، صفاتو او افعالو کې لوی دی(رب العرش العظيم أن يشفيك) د لوی عرش خاوند دی چې تا روغ کړي، او اووه ځلې يې پرې وويله - مګر دا چې الله به يې له هغه مرض نه ورغوي.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/6270